# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان


**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com          afgazad@gmail.com

| National and Revolutionar Characters | شخصیت های ملی و انقلابی |
|---|---|


پیشگام
۰۹ جولای ۲۰۲۴



زنده یاد سیدال سخندان

## سیدال سخندان د کارگرانو او زیارکښانو پرېکنده آواز

د ۱۳۵۱ کال د غبرګولي په ۲۹ مه، د افغانستان ولس، په تېره بیا کارګرانو او بزګرانو یو رښتونی مدافع له لاسه ورکړ. سیدال سخندان یادوو، هغه آواز چې د پوهنتون په لاریونونو کې یې د وینا پرتم لا انګازې کوي، هغه شاعر چې لا د شعر اور یې د زبېښاک په ترږمو کې لمبې وهي:«په پلاس او په انبور دې استثمار پاره پاره کړه/ شابه شابه ای کارګره خپل ایمان غیرت ښکاره کړه»؛ هغه د ولس د ګڼو فریادونکی، ساتونکی او مبارز؛ هغه انسان چې په خپله د بزګر په کورنی کې وزېږېد او د کارګرانو، بزګرانو او د ټولو زیارکښانو په غږ بدل شو:«خاشه مې مه ګڼه ډېر ټینګ غیرت ایمان لرمه/وینې به توې کړم له تا نه ډېر غښ توان لرمه/ډېر دې ایسار کړم پس له دې ایسارېدلی نشم/ ستا د پښو لاندې ځپلی ژوند کولی نشم».

سیدال سخندان د افغانستان د کیڼ غورځنګ د «سازمان جوانان مترقي» یو مبارز کادر و. هغه چې په خپله د لوګر په یوې بزګرې کورنی کې زېږېدلی و او له نژدې یې ستم، زبېښاک او لوټل لیدلي وو، د خلاصون لاره یې په هغه فکر، اند او ایدیولوژي کې موندە، چې د کارګرانو او د ټولو زیارکښانو د ژغورنې لاره ترسیموي. هغه د دې تر څنګ چې د محصلینو په لاریونونو کې د پرمختللي فکر او مخکښي ایدئولوژی په رڼا کې د ستم، ربړونې او بلوس په وړاندې ویناوې کولې، د شعر له لارې یې هم د روښانتیا لوي رسالت او دنده په مخ وړله. د هغه شعرونه په واقعي مانا، طبقاتي شعرونه دي. د هغه شعر د کارګر په لاس کې د ښټک، د بزګر په لاس کې د لور او د روناندې په لاس کې د قلم یو پرتمین امتزاج او پنځونه ده. هغه تل په خپلو شعرونو کې د کارګر د تندې خوله، د بزګر د لاس ټناکې او د زیارکښانو د هاند او زیار او د هغوی د خلاصون لاره په ښایسته ډوله انځوروله.

سیدال سخندان له داسې یو لرلید، فکر او باور او کړنو سره طبعاً د کارګرانو، دهقانانو او د نورو زیارکښو انسانانو غلیمان، په آرامه پرېښودلی نشول. د همدې لپاره، د سیدال د ځلانده فکر او باور دښمنانو او د هغه له اغېزناکو هلوځلو ډارېدونکو اخوانیانو د هغه د وژلو لار ونیوله. جنایتکار ګلبدین دا جنایت تر سره کړ او خپلې کرغېړنې منګولې زموږ د ویاړلي مبارز په وینو سرې کړې. که څه هم جنایتکارو اخوانیانو دا مخکښ، مبارز او انقلابي انسان

په فیزیکي ډول له ولس څخه واخیست خو د سیدال سخندان لاره، فکر او باور لا د ولسونو د خلاصون د یوازیني لارې په توګه ژوندی ده او د سیدال په شان د سلهاوو نورو مبارزینو واقعي غچ د دې مبارزینو د لارې په ادامې، د خلکو له منافعي څخه په دفاع او د آزادۍ او برابرۍ لپاره د مبارزې په لابداینې اخیستل کېدلی شي.
د سیدال سخندان مبارزه د ولس د مبارزې بلېنده، شعر یې د پرګنو د لاریونونو شعار او وینا یې د پاڅون یو رهنمود دی؛ یاد یې پرتمین!